پوهاند دوکتور زیار

# اروابناد استاد محمد دین ژواک
## د ناپېیلي شعر یو ژمن نوښتگر

ازاد شعر اروپایانو په نومهالپېر، اتلسمه پېړۍ کې له بلانک((سپین)) شعره راپیل کړی،هغه هم دننني ښتوله پښتو((سپین شعر))او پارسي ((شعرسپید))
په جاج نه، بلکې تش د پښبلې(قافیې) او څه ناڅه داړوندو دودیزو متریکو (عروضي) او نظمي بندیزونو له باستیله دازاد په مانا. ازاد(فري) او سپین یې په نولسمه او ناپېیلی(منثور) دایې بیاپه نومېرلې او نومولې بڼه د شلمې پېړۍ په اوږدو کې رادود کړی دی.
په ختیځ او بیا ایران کې دازاد پارسي شعر بنسټ نوماند نیما شوویچ پر 1901ز کال ایښی او د سپین دې نژدې نیمه پېړۍ راوروسته نومیالي انقلابي شاعر احمد شاملو. ناپېیلی یې هم له دغو دوو نورو سره څنگ پرڅنگ دود درلودلی، خو تر اوسه د نثر ادبي او پارچۀ ادبي په نامه یادېږي او نادر نادرپور لا په ناسمه توگه د اروپایي پېیلیو شعرونو د ناپېیلو ژباړو ړندې پېښې بللې دي(انځور...)!

ازاد شعر په پښتو کې دوی لسیزې راوروسته [illegible] دود موندلی، هغه داچې د مسرو برابری، پښبله اولړ(قافیه او ردیف) یې غورځولي، په دومره توپیر چې هغې ژبې ورسره خپل دودیز ((عربي- عروضي)) او پښتو خپل څپیز- خجیز(سېلابو تونیک) تول و تال خوندي ساتلي دي. سپین په دواړو ژبو کې بیا هم د هماغه یادشوي مهالني واټن هومره، له دوو لسیزو راهیسې په دې مانارادود شوی چې نه یوازې پښبله لړ او مسره بیز برابری ، بلکې تول(وزن) هم نه لري او یوراز تال، غاړه یا لحن او اهنگ یې هرگوره د لوستلو او یااورولو په بهیر کې تر غوږه کېدای شي.المانی (Freie Rythmen = ازادوزنه) نومونه له همدغه ډول سره ښه ترا اړخ لگوي چې پر وړاندې یې (Freie Versen) نومونه د بې قافیه شعر بلانک(blank ) له جاج سره سمون مومي. دودیز اروپایي بلانک یا سپین شعر موږ یوراز نیم ازاد ((موندی)) نومولی دی چې استاد پژواک یې په پښتو کې پر 1317ل کال په((کلیمه داره روپی/چاپ 1337ل)) بنسټ ایښی دی (زیار 152، 99).

پاتې شو، زموږ د اوسنۍ څېړنې اړوند درېیم، په بله وینا، څلورم ناپښبلیز ډول((ناپېیلی یامنثور)) شعر. داکټ مټ هماغه زړه راکښونکی، ښکلی او خیالولی ادبي نثر دی چې د نورو ډېرو غونډې ورته

پښتنو ویناوالو دادبي نثر یا ادبي ټوټې تر نامه لاندې د تېرې پېړۍ له هماغه لومړیو څخه تراوسه پاینه وربښلې ده.
سرلاري یې مولوي احمد(1261-1301س)،رضواني(1279-1353س)، زاخیلي(1304س-1342ش) او منشي احمد جان(1273-1330 ش) بلل شوي(سنګروال 484 ،هېوادمل195) او بره خوایې علامه حبیبي،استاد بېنوا، مولاناخادم، استاد رښتین او استاد الفت له مخکښانو څخه ګڼل کېږي.
په دوی کې زیاتره، په تېره داستاد الفت هغه یې له داسې ډول سره سمون مومي چې نن سبایې لنډکی داستان(Short-Short Story) بولي.

هرګوره زموږ پښتو نومونه((ناپېیلي یا منثور شعر)) له اروپایي هغې څخه یوه پور ژباړه ده. انګرېزي انډول یې(Poetical Prose ) او(Poem in prose) او الماني یې(Prosadichtung) دي. داراز نثر په دې یو شعري څېل یا ژانر بلل کېږي چې ان زموږ له دودیز- عربي پېژند(مخیله کلام) سره سم د شعر بنسټیز اَر و اَړ یا اصل و شرط پرځای کوي او هرګوره، هر ه ناپېیلې لیکنه او ان سپېره نظم د دغې نومونې جوګه کېدای نه شي. سره له دې چې ناپېیلی شعر، نه له پښېلې او لږ سره کار لري او نه له مسرو او بندونو او نه له تول وتال سره.
زموږ د دغه شعري څېل نوښتګر سرلاری استاد اروابناد محمد دین ژواک په اَر او ټولیز ډول د پښتو ژبې او ادب د نومهالي غورځنګ له ډېرکارو مخکښانو څخه شمېرل کېږي. څه له پاسه نیمه پېړۍ یې څه د ښوونځیو، پښتو کورسونو او رادیو د ښوونکي او څه د لیکوال، شاعر، ژورنالېست او بیابناپسته ډېر مهال د پښتو ټولنې د علمي غړي او ورسره ورسره د دوه ګونو خپرنیو اورګانونو، زېري اوونیزې او کابل میاشتیزې چلوونکي په توګه د پښتو سرخېنې لپاره نه ستومانېدونکې هاندوهڅې ترسره کړې دي.

د لیکوال په اند هغه څه چې استاد یې په خپلو همپېرو کې ډېر ښه ترا نومېرلی او اوځارلی، هغه یې له ژب- ښکلاییز پلوه په پېیلې او ناپېیلې ویناکې دمهال، چاپېریال او ټولنیز تشیال یو ژوره او زړه راکښونکې انځور ګري او تندارګري (تمثیل) دی . دغه دوې غبرګې هنري ځانګړتیاوې یې بیا تر داستان او پېیلي شعره په ناپېیلي یا منثور شعر کې په ځانګړې توګه زیاته ځلېدنه مومي اویوه نوښتګرانه ښه او بېلتیاوربښي.

له ژب- اندیز پلوه یې یوه غوره بېلتیا او ځانګړتیاداچې د یوه چپي او روښاندي ویناوال په توګه د نورو ادبي پنځونو په څېر په دغه ژانر کې هم ټولنیز ارمان او ژمندوېي په ټوله خواخوږۍ او رښتینولۍ رانغاړي او په دې ډول یې اړوند پیغام لروډېر د انتقادي ریالېزم تر پولې ور اوړي اودنوي هومانېزم اوبجې ته ورګډېږي.

سم له لاسه د خپلو خبرو د زباد او دښکلې پایلې لپاره د((نیاز)) تر نامه لاندې د ستر نوښتګر استاد د ناپېیلي شعر یوه وروستۍ زړه راکښونکې بېلګه درنو اغلو او ښاغلو ته وړاندې کوم چې ګران او هڅاند لیکوال دوست انځور صاحب په واک کې راکړې ده :

دلته چې د بې موسمه بهار د ګلونو د ښایسته پاڼو سترګې ، د لمر رڼو وړانګو ته مدام کږې وي .
په دې هېواد کې چې د ژړي لمر دلمنې د غوړېدلو هڅه لږه ده .
دلته د راڼه لمر د وړانګو د رورېد زړه مه تنګوه !
هو ! دلته د هغه چا چې د ورشو د آسمان خوله د همېش لپاره په خندا ډکه وه .
دلته چې د موسم د نیلي د مخې منډه یې لېونۍ غوندې ښکاري .
دلته چې د وریځې خړ پړونی یې له شنو چمنونو سره د رڼو وړانګو شوخۍ ته لږه اجازه ورکوي او غېږ په غېږ کېدل ورته د سلا کابو/نه لري ، نو ای د رڼا د لوی جهان خاونده !
ته خو پوهېږې چې دې د رڼو وړانګو لمبېدلي ته دا ورشو بېګانه ښکاري .
ته ، ای د لوی جهان د رڼا خاونده !
داد رڼو وړانګو د رڼا لمبېدلی ، د رڼا د مشالونو کور نه هېروي ، بېرته یې بوزه !
بویې ځه ، د رڼا د نڅا محل ته ، هلته چې په رڼا یې سترګې بیا مړې شي .
المان ، بنــزهایم، جولای ۱۹۹۵

اخځلیک


انځور، زرین: شعرونه او نقدونه. کابل 1365ل.
زیار: پښتو بدلمېچ(پښتو شعر څنګه جوړېږي؟)، کابل 1369.
سنګروال نیازی، شهسوار: د پښتو ادبیاتو معاصر تاریخ. پېښور1997ز.
هېواد مل، زلمی: فرهنګ زبان و ادبیات پښتو. کابل 1356م.